ایا زه تاسو ته د دجال په اړه داسې یو څه ونه وایم چې هېڅ پیغمبر خپل قوم ته نه دي ویلي؟ هغه (په یوه سترګه) ړوند دی، او هغه له ځان سره د جنت او دوزخ په څېر راوړي

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "ایا زه تاسو ته د دجال په اړه داسې یو څه ونه وایم چې هېڅ پیغمبر خپل قوم ته نه دي ویلي؟ هغه (په یوه سترګه) ړوند دی، او هغه له ځان سره د جنت او دوزخ په څېر راوړي نو کوم چې هغه یې جنت بولي هغه اور دی او زه تاسو ته خبرداری درکوم لکه څنګه چې نوح خپل قوم ته خبرداری ورکړی و .

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابو ته د دجال، د هغه د صفتونو او نښانونو په اړه خبر ورکوي، چې له هغه مخکې هېڅ نبي تري خبر ندی ورکړی، له هغو څخه: هغه په سترګه ړوند دی. او الله تعالی له هغه سره داسې یو څه مل کړي دي چې په سترګو جنت او دوزخ ښکاري. مګر د هغه جنت اور او اور یې جنت دی، چا یې چې پیروي وکړه نو خلکو ته داسې ښکاري چې ګویا جنت ته یې ننباسي، خو په حقیقت کې هغه سوځونکی اور دی، او چا یې چې نافرماني وکړه خلکو ته داسې ښکاري چې هغه یې اور ته ننباسي، خو په حقیقت کې هغه ښایسته جنت دی. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم مور ته د هغه د فتنې په اړه خبرداری راکړ، لکه څنګه چې نوح علیه السلام خپل قوم ته خبرداری ورکړی و.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3110